**مطبوعاتي اعلامیه**

# د کرونا (COVID-19) ویروس خپرېدل واکمنانو ته دا په ډاګه کوي چې د مرستې او هدایت لپاره الله سبحانه وتعالی ته رجوع وکړي

کرونا ویروس په پاکستان کې څکه په چټکۍ سره خپرېږي چې په دغه ویروس اخته کسان پرته له دې چې پوه شي د کرونا ناروغي لري له نورو کسانو سره په تماس کې کېږي، علت دادی چې د دغه ویروس اصلي نښې ډېر وروسته د انسان په وجود کې را څرګندېږي. که څه هم پر دغه ناروغۍ د اخته کسانو زیات شمېر به په خپلو کورونو کې بېرته روغ شي او دوی به یوازې یوه ډېره ساده ناروغي تېره کړي، خو ډېره لږه برخه ناروغان چې له وړاندې د سږي ناروغي لري دې ته اړتیا لري چې په روغتون کې تر هر اړخېزې طبي درملنې لاندې ونیول شي.

ددغې ساري ناروغۍ د خپرېدو وېرې ته باید پاملرنه وشي تر څو د وېرې د ستړس او روحي فشار د ډېروالي او د غیر ضروري طبي خدماتو د کارونې مخنیوي وشي څکه دا ډول کړنې د ناروغیو پر وړاندې د انسان د معافیت سیستم کمزوری کوي. دا د مسلمان حاکم مسولیت دی چې دولتي چارواکو، رسنیو او عالمانو ته دنده ورکړي چې په ټولنه کې د غوره اسلامي مفاهیمو د بیانولو له لارې په خلکو کې د حوادثو پر وړاندې زغم او صبر را ژوندی کړي. مسلمانان باید د خپل تسکین لپاره له الله سبحانه وتعالی څخه دعا او مغفرت غوښتلو ته راوبلل شي، صدقه ورکړي او په یاد ولري چې د هرې ستونزې او زیان په خاطر به په اخرت کې اجر ترلاسه کوي. رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلاَ وَصَبٍ وَلاَ هَمٍّ وَلاَ حُزْنٍ وَلاَ أَذًى وَلاَ غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا، إِلاَّ كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ»**

**ژباړه:** *هره ستونزه، ناروغي، اندېښنه، خفګان، درد، او غم چې مسلمان ورسره مخ کېږي حتی هغه که د اغزي درد هم وي الله سبحانه وتعالی به یې په مقابل کې ځینې ګناهونه ورته وبخښي.* (بخاري)

مسلمانان باید په یاد ولري چې د مرگ اصلي سبب د ژوند پای (اجل) دی چې د الله سبحانه وتعالی له خوا ټاکل شوی دی. انفلونزا، حصبه، ملاریا او کورونا یوازې هغه شرایط او احوال دي چې مړینه په کې پېښېږي.

د ناروغۍ د خپرېدو په اړه د رژیم بې پروایي تل د زیانمنېدلو سبب شوې ده. دوی له ایران څخه راغلي په ناروغۍ اخته او روغ کسان په ټول پاکستان کې په خپلو کورونو کې ازاد پرې ایښي دي چې همدا د ناروغۍ د چټک خپرېدلو سبب شوی دی. دوی هېڅ زده کړه نه کوي، دوی حتی له ناروغو کسانو څخه نورو ته د ناروغۍ د لېږد په موخه پوره هڅه نه کوي. پر مسلمان حاکم باندې دا لازمي ده چې د لویو احتمالي ناورینونو پر وړاندې احتیاطي تدابیر ونیسي. رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

**«لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ»**

**ژباړه:** *د ضرر د رسولو یا ضرر د راستنولو سبب مه جوړېږئ.* (ابن ماجه)

او رسول الله صلی علیه وسلام فرمايي:

**«لاَ تُورِدُوا الْمُمْرِضَ عَلَى الْمُصِحِّ»**

**ژباړه:** *د احتیاط په موخه له ناروغ کس سره روغ کسان مه پرېږدئ.*(بخاري)

اسلام امر کړی چې ناروغ کس باید له روغو کسانو څخه بېل شي او هغو کسانو ته باید جدي پاملرنه وشي چې د ناروغیو پر وړاندې یې معافیتي سیستم کمزوری وي؛ لکه هغه ډېر عمر لرونکي کسان چې له وړاندې د سږو ناروغي لري، د دوی سالمې تغذیې او تمرین ته باید تر هر وخت زیات پاملرنه وشي.

د دا ډول جدي ناروغانو د درملنې په اړه د اوسني استعمار د روغتیايي سیستم بې پروایي اوس ټولو ته په ډاگه شوې ده. د دغه استعماري سیستم د بودیجې د لویې برخې لگښت د خلکو د روغتیا او د نورو چارو په تنظیم کې نه، بلکې د سود پر اساس پورونو کې کېږي. استعماري نظام دا باوري کړې ده چې پاکستان به کله هم په خپل صنعت کې په ځانگړي ډول د ژوند ژغورنې طبي تجهیزاتو؛ لکه د سږو د ناروغانو لپاره د اکسیجن رسونکو ماشینونو په جوړولو کې د پام وړ پرمختگ ترلاسه نه کړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

## «فَالإِمَامُ رَاعٍ، وَهْوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»

**ژباړه:** امام د خپل رعیت ساتونکي دی او د هغوی پر وړاندې مسول دی. (بخاري)

د نبوت پر منهج خلافت له تاسیس پرته موږ د هغو یتیمانو په څېر یو چې له سرپرست پرته په ډېر ناوړه وضعیت کې وي. دا زموږ مکلفیت دی چې له دغې ستونزې د خلاصون، د ناروغانو د روغتیا او د مسلمانانو د هغه ډال (خلافت) د بیا تاسیس کولو لپاره دعا وکړو چې موږ ۹۹ کاله وړاندې د رجب په ۲۸ مه له لاسه ورکړی وو. دا زموږ ټولو مکلفیت دی چې د هغه دولت د تاسیس لپاره کار وکړو چې الله سبحانه وتعالی یې راته امر کړی دی، هغه وخت به خوندي وو، روغتیایي اسانتیاوې به برابرېږي او د الله سبحانه و تعالی او رسول الله صلي الله علیه وسلم اطاعت به مو بشپړ کړی وي.

## حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ.ق کال، رجب ۲۷مه

۲۰۲۰م کال، مارچ۲۲ مه

د صدور ګڼه: ۵۰/۱۴۴۱